

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

(بانک مرکزی)

# کلنی - راپور - سالانه





۱۳۸۶

د افغانستان بانک

(مرکزي بانک)

# کلنی راپور

## ۱۳۸۶

www.centralbank.gov.af

د افغانستان بانک کلنی راپور

چمتو کونکی
ایمل هاشور
د افغانستان بانک د عامه اړیکو او خپرونو مسوول
عکاس
عبداللطیف بابانی
پته
د افغانستان بانک
ابن سینا واټ
کابل
ټلفن
۱۵ ۳۸ ۲۱۰ (۲۰)
بریښنالیک
info@centralbank.gov.af
ویب پاڼه
www.centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک د عالي شورا غړي



عبدالقدیر فطرت د عالي شورا رییس



محب الله صافی د عالي شورا مرستیال




ډاکتر عبدالغني غوثي ،غړی



نور الله دلاوري، غړی



ډاکتر شاه محمد محرابي، غړی



ډاکتر غلام محمد ییلاقي، غړی



ډاکتر عمر زاخیلوال، غړی

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



عبدالقدیر فطرت د افغانستان بانک لوي رییس



محب الله صافی د افغانستان بانک لومړی مرستیال



الحاج محمد عیسی طراب د افغانستان بانک دویم مرستیال

# فهرست


د افغانستان بانک د تولو رییس پیام........................................................ الف
پولي سیاست ........................................................................................ ۱
د افغانستان بانکي نظام.......................................................................... ۵
د تادیاتو نظام........................................................................................ ۱۰
د بازار عملیات...................................................................................... ۱۳
مالي صورت حساب ................................................................................ ۱۶
اداره او پراختیا...................................................................................... ۱۸

# د افغانستان بانک د ټولو رییس پیام



د افغانستان بانک د مشرتابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د افغانستان بانک د کړنو او سیاستونو کلنی راپور ستاسو په واک کې ږدو. دا راپور په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د اقتصادي وضعې تر څنګ، پولي وضعیت او د پولي سیاست د کارونې څرنګوالی، د افغانستان د بانکي نظام د فعالیتونو میکانیزم، د بازار وضعیت او بانکي عملیات، د افغانستان بانک اداري بهیر او پرمختیا رانغاړي.

۱۳۸۶ هجري لمریز کال په نړیوالو بازارونو کې د وارداتي کالیو په تیره بیا د نفتي او خوراکي موادو د بیو د لوړیدو سره سره، د ودې او اقتصادي پراختیا کال و. په دې کال کې اقتصادي وده په سلو کې ۱۱.۵یعنې ۴۷۸ ملیارد افغانیو ته لوړه شوه په داسې حال کې چې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې اقتصادي وده په سلو کې ۸.۲ (۳۸۵ ملیارد افغانی) وه. د خدماتو سکتور د اقتصادي ودې له مهمو سکتورونو څخه شمیرل کیده چې د هیواد د اقتصاد په سلو کې ۴۳.۵ یې جوړاوه. همدا شان کرنه هم په سلو کې ۳۱.۴ ونډې سره د هیواد د مهمو اقتصادي سکتورونو څخه شمیرل کیده.

د انقباضي پولي سیاست د غوروالي سره سره، د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال په خلاف چې د پړسوب نرخ نزولي منحني لرله او د جدي میاشت کې په سلو کې ۳.۵ ته رسیدلی وه، د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال له لومړیو څخه د پړسوب د نرخ ګراف صعودي بهیر پیل کړ چې په همدې کال کې په منځني توګه په سلو کې ۱۲.۵ ته لوړ شو چې اصلي لامل یې په نړیوالو بازارونو کې د خوراکي توکو (غنم، وریجې او جوار) او د سون موادو د بیو لوړوالی و. ښایي په ډاګه کړو چې د اقلامو په لګښتي ټوکرۍ کې د خوراکي توکو ونډه په سلو کې ۶۱.۳ او د سون موادو ونډه په سلو کې ۷ ده.

نړیوال بانک او نورو معتبرو نړیوالو ادارو د تیلو د بدیل په توګه دنباتي سون موادو لپاره د تقاضا ډیروالی، د خوراکي توکو په مهمو هیوادونو کې وچکالي او د چین او هند په شان سترو مصرفي هیوادونو کې د تقاضا ډیروالی، په نړیواله کچه د خوراکي موادو د بیو د لوړوالي مهم لاملونه ګڼي. خو د افغانستان بانک د انقباضي پولي سیاست په غوروالي سره، د پړسوب کورني لاملونه تر یوې کچې مهار کړي او په ورته وخت کې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیاتوالي تر یوې اندازې پورې وارداتي پړسوب جبران کړ. سربیره پر دې د اسعارو د مبادلې له نرخ څخه رامنځته کیدونکي پړسوب څخه په بشپړه توګه مخنیوی وشو.

د افغانستان بانک په ۱۳۸۶ کال کې د معقول پولي سیاست په غوروالي سره وکړای شول د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ته لا ټیکاو وروبخښي چې دا کار پر افغانۍ باندې د خلکو د لا اعتماد او باور لامل شو. څرنګه چې د همدې کال په لومړیو کې د یوې امریکایې ډالر په وړاندې د افغانۍ مبادلوي نرخ ۵۰ افغانۍ و چې د کال په پای کې مبادلوي ارزښت یې د ډالرو په وړاندې ۴۹.۵ ډیر شو چې دا کار د خلکو په راکړې ورکړې کې د افغانۍ د لا دودولو لامل شو. د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال په پیل کې د افغانستان د بانکي نظام په اډانه کې د بانکې اماناتو کچه په افغانۍ نژدې ۷.۷ ملیارده افغانۍ وی چې د همدې کال په پای کې په سلو کې ۷۰ ودې سره ۱۴ ملیارده افغانیو ته ورسیدې چې د افغانۍ د دودیدنې ښکارندوي کوي.

سرانه عاید په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې ۴۲۹ ډالرو ته ورسید په داسې حال کې چې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال د سرانه عاید کچه ۳۸۳ امریکایي ډالره وه. همدا شان د افغانستان بانک اسعاري زیرمې د ۱۳۵۸ کال د ۲. ۵۵۳/ ۷۶۷/ ۱۶۸/ ۲ ډالرو څخه په ۱۳۸۶ کال کې ۹۰. ۶۴۰/ ۵۲۱/ ۰۲۴/ ۳ ډالرو ته زیاتوالی وموند چې په سلو کې ۳۹ وده ښکاره کوي.

د افغانستان بانکي نظام هم په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د ښه نافعیت څخه برخمن و. په ۱۳۸۶ کال کې د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ ۸۴ ملیارد افغانیو ته ورسیده چې د تیر کال په پرتله په سلو کې ۵۵ ډیروالی ښکاره کاوه. د دې شتمنیو څخه پوروونه ۴۰ ملیارد افغانیو ته ورسیدل چې د تیر کال په پرتله په سلو کې ۸۳ زیاتوالی درلود. دا وخت پوروونه د افغانستان د بانکي نظام په سلو کې ۴۸ جوړوي. همدا ډول امانات د بانکي سیستم د پورورکونې لویه برخه جوړوي چې په ۱۳۸۶ کال کې ۶۴ ملیارد افغانۍ زیاتوالی وموند چې د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال په پرتله په سلو کې ۸۵ وده ښکاره کوي.

په ټولیزه توګه د افغانستان بانک په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې، د اداری، پراختیا، قانون او بانکي مقرراتو په برخه کې بی ساري لاسته راوړنې درلودی او د خپلو کارکونکو د ظرفیت په لوړوالي کې نه ستومانه کیدونکې هلې ځلې وکړی. زه د افغانستان بانک د زړه سواندو کارکونکو د زیار او هڅو څخه د زړه له کومې منندوی یم او هیله لرم چې د افغانستان بانک ورځ تر بلې د پرمختیا، پراختیا او پرمختګ پوړې شاته پریږدي.

عبدالقدیر فطرت

د افغانستان بانک د ټولو رییس

# پولي سياست

نقدينه ګی (سياليت)

د افغانۍ د مبادلې نرخ

پولي پړسوب يا انفلاسيون

اقتصادي وده

سرانه عايد

# پولي سیاست


پولي سیاست، د مالي سیاست تر څنګ، د هیواد د اقتصاد له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کیږي چې د اقتصادي کړنو لپاره د اړین چاپیریال په برابرونې کې بنسټیز رول لري. د افغانی د مبادلوي نرخ د ټیکاو له لارې د پولي پړسوب د نرخ کموالی او د هیواد د اقتصاد د اړتیا وړ نقدینه ګي (سیالیت) اندول ساتنه، د پولي سیاست مهمه موخه ګڼل کیږي.

## نقدینه ګي (سیالیت)

مرکزي بانک دې موخې ته رسیدلو لپاره، د پیسو د نړیوال صندوق په مرسته د پولي سیاست لومړنی میکانیزم د بیوزلی د کموالي او د اقتصادي ودې د ګړندیتوب تر برنامې لاندې طرحه کړی چې د هیواد د اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره، په ګردښت کې پیسې (د پیسو عرضه) د اقتصاد د نقدینګي شاخص په توګه په پام کې نیسي. دا میکانیزم پر دې اقتصادي بنسټ ودریدلی دی چې ښایي د پیسو عرضه د هیواد د اقتصاد اسمي ودې سره وده وکړي څو د پړسوب پر نرخ د هغې د منفي اغیزو مخنیوی وشي. دا مهال د دې موخې د پلي کیدو لپاره یوازینی وسیله د بهرنیو اسعارو پلور دی.

د افغانستان بانک د پولي سیاست میکانیزم په ۱۳۸۶ کال کې په ګردښت کې د پیسو د اندازې وده په سلو کې ۱۹ په پام کې نیولی وه. په یاد شوي کال کې په ۱۰۰ دورو کې(په اونۍ کې دوه ځل) په ټولیز ډول څه باندې ۹۸۲ ملیون ډالره وپلورل شول او د هغې معادلې افغانۍ وپیرودل شوی. باید ووایو، په ګردښت کې د پیسو کچه چې د ۱۳۸۶ کال د وري په لومړی کې ۱۳۵/ ۰۵۸/ ۳۲۹/ ۵۰ افغانۍ وی د همدې کال په پای کې ۷۵۸/ ۲۹۰/ ۸۹۹/ ۵۸ افغانۍ ته رسیدلې چې په سلو کې ۱۷ زیاتوالی ښکاره کوي.

له هغه ځایه چې په ګردښت کې پیسې (٪۱۷)، په پام کې نیول شوي ودې(٪۱۹) څخه کمې وې، نو مرکزي بانک وکړای شول په همدې کال کې د پیسو نړیوال صندوق لخوا ټاکلي هدف ته په بریالیتوب سره ورسیږي. لاندې ګراف په ۱۳۸۶ کال کې په ګردښت کې پیسې ښکاره کوي.




د یادونې وړ ده چې د بیوزلی د کموالي او د اقتصادي ودې د آسانتیا منځمهالې برنامې موخه چې د ۱۳۸۵ کال له پیل څخه به تر دری کالو پورې دوام ولري، د ۱- مالي نظام پایښت او ټیکاو، ۲- خوځنده او متحرکه پولي سیاست او فعال بانکي نظام، ۳ – د خارجي سکتور ټیکاو، ۴ – د خصوصي سکتور د ودې لپاره وړ چاپیریال، ۵- سالمه سیالي او ۶- په اقتصاد کې

د سالمې سيالۍ د چاپېريال برابرولو سربېره د شته ننګونو د حل لپاره د اغېزمنو اقتصادي سياستونو طرحه کول دي.

له بلې خوا، د هېواد د بانکي سکتور د ودې له امله په ګردښت کې پيسې تر هدف لاندې نيول، نشي کولای په اقتصاد کې په اړين ډول نقدينه ګي (سياليت) کنترول کړي. د M1 پيسو عرضه چې د ۱۳۸۶ کال په پيل کې نژدې ۹۰ ملیارده افغانۍ اټکل شوی وی د همدې کال په پای کې په سلو کې ۲۷ ودې سره ۱۱۵ ملیارده افغانۍ ته رسيدلې.


د ۱۳۸۶ کال په پای کې په ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني سررسيد بيه لرونکو پاڼو کې د بانکي سکتور ټوليزه پانګه اچونه څه باندې ۴.۷ ملیارده افغانۍ ته رسيده او په ورته وخت کې نژدې ۸۸۸ مليون افغانۍ د سوداګريزو بانکونو د شپې حسابونو کې توی شوي دي.

د افغانستان بانک د اقتصاد د سياليت د تنظيمولو په موخه، د بهرنيو اسعارو د پلور سربېره، په ۲۰۰۴ کال کې د بيه لرونکو پاڼو په پلور او په ۲۰۰۶ کال کې د سوداګريزو بانکونو لپاره د شپې حسابونو پرانيستنه پيل کړه. د افغانستان بانک په پام کې لري چې د ۱۳۸۷ کال تر پای پورې په هېواد کې د بيه لرونکو پاڼو ثانوي بازار هم جوړ کړي چې د بيه لرونکو پاڼو ليلام نور هم پراختيا ومومي. سربېره پر دې د افغانستان بانک، د ۱۳۸۷ کال د څلورمې ربعې وروسته په پام کې لري چې د ګردښت پيسو تر څنګ M1 هم تر هدف لاندې ونيسي او خپل پولي سياست نوي پړاو ته ولېږدوي.

## د افغانۍ د مبادلې نرخ


د افغانستان بانک، پر عملي ميکانيزم ولاړ متوازن پولي سياست سره توانيدلی، په تيرو کلونو کې د افغانۍ د مبادلې نرخ ته ټيکاو ورپه برخه کړي چې دا کار د هېواد پر پولي واحد د خلکو د لا اعتماد لامل شوی او افغانۍ يې لا دود کړې ده.

لاندې ګراف په ۱۳۸۶ کال کې د افغانۍ د مبادلې نرخ ښکاره کوي.




څنګه چې ليدل کيږي، د ۱۳۸۶ کال په لومړيو کې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ د يو امريکايي ډالر په وړاندې ۵۰ افغانۍ و چې البته نه يوازې په همدې کال کې افغانۍ خپل ټيکاو وساتو بلکې ارزښت يو څه ډېر هم شو او د کال په وروستيو کې يو ډالر د ۴۹.۵ افغانۍ په بدل کې بدليدو.

بايد يادونه وکړو چې د افغانۍ د ارزښت ټيکاو او پر هغه د خلکو د اعتماد ډيروالی، د هېواد د پولي واحد د لا دوديدنې لامل شوی دی چې بانکي امانات کولای شي دا ادعا ثابت کړي. د ۱۳۸۶ کال په پيل کې پر





افغانۍ د بانکي اماناتو ټوليزه کچه نژدې ۷.۷ ملیارده افغانۍ وی چې د کال په پای کې په سلو کې ۷۰ ودې سره ۱۴ ملیارده افغانيو ته ورسيده. د دې په وړاندې، د کال په لومړيو کې په بهرنيو اسعارو د بانکي اماناتو کچه نژدې ۳۱.۵ ملیارده افغانۍ وه چې د کال په پای کې په سلو

کې د ۴۷ ودې سره څه باندې ۴۶.۴ ملیارد افغانی ته رسیده. په افغانی بانکي امانات چې د کال په پیل کې د ټولیزه بانکي اماناتو په سلو کې ۲۰ جوړوله، د ۱۳۸۶ کال په پای کې په سلو کې ۲۱ ته زیاتوالی ومونډ.

## پولي تورم یا انفلاسیون

د انقباضي پولي سیاست د غوړ والي سره، د ۱۳۸۵ کال په خلاف چې د تورم نرخ نزولي منحني درلوده او د جدي میاشت کې په سلو کې ۳.۵ ته رسیدلې وه، د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال له لومړیو څخه د تورم د نرخ ګراف خپل صعودي بهیر پیل کړ او د ۱۳۸۶ کال په‌حوت میاشت کې په سلو کې ۲۰ ته ورسید.

لاندې ګراف په ۱۳۸۶ کال کې د پولي تورم نرخ ښکاره کوي.




له هغه ځایه چې افغانستان یو واردونکی هیواد شمیرل کیږي، نو په هیواد کې د تورم نرخ د لوړوالي مهم لامل، په نړیوالو بازارونو کې د اساسي خوراکي توکو (غنم، وریجې او جوار) او د سون موادو د بیو لوړیدل دي چې دا بهیر د ۱۳۸۵ کال له دلو میاشتې پیل شوی دی. باید څرګنده کړو چې د مصرفي اقلامو په ټوکری کې د خوراکي موادو ونډه په سلو کې ۶۱.۳ او د سون موادو ونډه په سلو کې نژدې ۷ ده. د نړیوال بانک او د نورو نړیوالو معتبرو ادارو د څرګندونو له مخې د تیلو د بدیل په توګه نباتي سون موادو Biofuel ته د تقاضا ډیروالی، د خوراکي توکو په مهمو تولیدونکو هیوادونو کې وچکالي او د چین او هند په شان لویو مصرفونکو هیوادونو کې د تقاضا نه ټیټوالی، په نړیواله کچه د خوراکي توکو د بیو د لوړوالي له مهمو لاملونو څخه شمیرل کیږي.

نړیوال سازمانونه په دې باور دي چې د خوراکي توکو د بیو لوړوالی مقطعي نه دی او بنایي پر نورو توکو د منفي اغیزې د مخنیوي لپاره وړ لارې چارې ولټول شي. نو اړین بریښي چې دولت د لنډمهاله موخې په توګه د ستراتیژیکو زیرمو په جوړونې او د اوږدمهالې موخې په توګه پر بهر د هیواد د ډډې وهونې د کموالي او د کورنی اړتیا د کمیدو لپاره د افغانستان د کرنیز سکټور د ظرفیت د ودې لپاره جدي اقدامات تر لاس لاندې ونیسي.

د افغانستان بانک د پولي انقباضي سیاست په غوړ والي سره، د پړسوب کورني لاملونه مهار کړي دي. سربیره پر دې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانی ارزښت تر یوې کچې پورې وکړای شول د وارداتي تورم او د مبادلوي نرخ نه راپورته شوی پړسوب جبران کړي.

## اقتصادي وده:

د پسرلي د لومړیو میاشتو د وربښت د ښه شرایطو په پام کې لرنې سره، داسې ښکاره کیده چې د افغانستان د کرنیز سکتور تولیدات به په ۱۳۸۶ کال کې ډیر شي او د هیواد واقعي اقتصادي وده به په سلو کې ۱۱.۵ وي او په پایله کې به د هیواد ناخالص تولیدات په همدې کال کې نژدې ۴۷۸ ملیارده افغانی وي.

د افغانستان د واقعي اقتصادي ودې اوسط د ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۵ کلونو په بهیر کې نژدې په سلو کې ۱۵ اټکل شوی دی او په همدې دوره کې د پولي پړسوب نرخ هم د پام وړ ټیټیدنه درلوده. خو څرنګه چې پورته ورته اشاره وشوه، د پړسوب نرخ په ۱۳۸۶ کال کې په نړیواله کچه د خوراکي او سون موادو د بیو د لوړوالي له امله، بیا صعودي بهیر پیل کړی دی.

لاندې جـدول په تیرو کلونو کې د هیـواد د اقتـصادي ودې ځینې مهم شاخصونه وړاندې کوي:

| | ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملي ناخالص تولیداتو واقعي وده | ۲۸.۶ | ۱۵.۱ | ۹.۴ | ۱۶.۱ | ۸.۲ | ۱۱.۵ |
| د ملي ناخالص تولیداتو اسمي وده (ملیارد افغانی) | ۱۸۳ | ۲۲۵ | ۲۸۶ | ۳۲۲ | ۳۸۵ | ۴۷۸ |
| د ملي ناخالص تولیداتو اسمي وده (ملیارد امریکایي ډالره) | ۴.۰۸ | ۴.۶۰ | ۵.۹۵ | ۶.۴۸ | ۷.۷۲ | ۹.۶۰ |
| پولي پړسوب (د کال اوسط) | - | ۲۷.۸ | ۱۲.۰ | ۱۱.۱ | ۴.۵ | ۱۲.۵ |

په هر حال د افغانستان اقتصادي وده په راتلونکي کال کې، د امنیتي چارو سربیره، د حکومتدارۍ ستونزو د حل، د زیربنایي سکتورونو په تیره بیا د بریښنا د ستونزو لرې کول او له خصوصي سکتور د ملاتړ په موخه د اصلاحي برنامو پلي کولو سره تړاو لري. سربیره پر دې، تمه کیږي چې د افغانستان صادرات په منځمهالې دورې کې ډیر شي.

باید څرګنده کړو چې د هیواد په اقتصاد کې د کرنیز سکتور ونډه په سلو کې ۳۱.۴، د صـنعت په سـلو کې ۲۵.۱ او د خدماتو ونډه په سلو کې ۴۳.۵ وه

## سرانه عاید:

د افغانستان د خلکو سرانه عاید کال په کال ډیریږي چې د هیواد د ښه اقتصادي وضعیت ښکارندوی دی. په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال کې په افغانستان کې سرانه عاید ۱۸۲ امریکایي ډالره و چې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې ۳۸۳ ډالرو ته ورسید او د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال تر پای پورې ۴۲۹ امریکایي ډالرو ته زیاتوالی ومومند. ●

# د افغانستان بانکي نظام

دننه ساحوي څارنه

د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمني

د افغانستان د بانکي نظام ټولیز پور

د افغانستان په بانکي نظام کې امانات

د افغانستان د بانکي نظام پانګه او ګټه


# د افغانستان بانکي نظام

د بانکي سيستم څارنه د افغانستان بانک له مهمو دندو څخه شميرل کيږي چې د افغانستان د بانکي سيستم له ټولو بهيرونو او وضعيت څخه څارنه رانغاړي. د افغانستان بانک چې د افغانستان د بانکي مالي ادارو او د نابانکي مالي ادارو د مالي نظام څارونکی مقام دی، په دوامداره هلو ځلو سره د هيواد د بانکي نظام د عصري کولو خوا ته په برياليتوب سره درومي. دا بانک د افغانستان بانک قانون، د بانکدارۍ قانون او اړوندو مقررو د پلي کيدو او انفاذ ته په بشپړه توګه ژمن دی او هڅه لري چې ټولې بانکي ټولنې د نوموړو قوانينو او مقررو څخه بشپړه پيروي وکړي. بې له شکه چې د افغانستان بانک په دوامداره توګه د بانکونو او پولي موسساتو سره مرسته کوي او د هغوې د ستونزو په حلولو کې بې له ځنډه هڅه کوي.

د افغانستان بانکي سيستم له ۱۶ بانکي موسسو (درې دولتي بانکونه، اته خصوصي بانکونه او پنځه د بهرنيو بانکونو څانګې) څخه جوړ شوی دی. په ۱۳۸۶ کال کې په هيواد کې د موجودو نمايندګيو او د نورو بانکي آسانتياو شميره په لاندې ډول ښکاره شوې ده:

| | د فعال بانکي آسانتياو مجموع | په ۱۳۸۶ کال کې مجوزې بانکي آسانتياوې |
|---|---|---|
| د فعاليت د نامحدودې ساحې سره نمايندګی | ۱۲۷ | ۲۱ |
| د فعاليت د محدودې ساحې سره نمايندګی | ۵۶ | ۲۶ |
| د صرافی اتومات ماشينونه | ۲۷ | ۸ |
| د بهرنيو بانکونو د اړيکو دفترونه | ۲ | - |
| | | |
| **مجموع** | **۲۱۲** | **۵۵** |

پورتني آسانتياوې د کابل په ګډون د هيواد په ۲۰ ولايتونو کې د لاسرسي وړ دي. همدا ډول، تر اوسه



پورې د پولي خدمتونو ۱۰۰ جوازونه او د صرافۍ ۱۷۵ جوازونه صادر شوي دي. د هیواد په ولایتونو کې د پولي خدمتونو فروع شمیره ۱۳۷ او د صرافانو د فروع شمیره ۱۵۷ ته رسیږي.

د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال په اوږدو کې د پولي خدمتونو ۸۴ جوازونه او د صرافۍ ۸ جوازونه د خدمتونو د پراختیا په موخه صادر کړای شول.

**دننه ساحوي څارنه:**

د مالي چارو د څارنې مدیریت د افغانستان د بانکي نظام د ګټورتیا او د شتمنۍ د تضمین په موخه دننه لري چې د افغانستان د بانکي نظام د کړنو له څرنګوالي څخه څارنه وکړي او د خلکو د اماناتو د خوندیتوب څخه ډاډ تر لاسه کړي. د دې لپاره د هرې څارنې د دورې له پیل مخکې د ساحې دننې څارنې تقسیم اوقات برابریږي. د څارنې لومړنی پړاو د ۲۰۰۵ کال په منځ کې پیل او د ۲۰۰۷ کال په لومړیو کې پای ته ورسید. د څارنې دویم پړاو چې د ۲۰۰۷ کال اپریل میاشت کې پیل شوی و، اټکل شوی یو کال وخت یې ونیو او د ۲۰۰۸ کال مارچ میاشت کې پای ته ورسید. د څارنې جدول له مخې، ۱۶ موسسې په دې موده کې تر بشپړ څارنې لاندې ونیول شوې. په پام کې ده چې د څارنې دریم پړاو د ۲۰۰۸ کال اپریل میاشت کې پیل شي.

**د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمنی:**

د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمنی په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې ۸۴ میلیارد افغانۍ(۱.۶۷ میلیارد ډالر) ته ورسیده چې د ۱۳۸۵ کال حوت میاشت (د ۲۰۰۷ مارچ) څخه په سلو کې ۵۵ زیاتوالی ښکاره کوي. د خصوصي بانکونو د ګروپ ټولیزه شتمنی په دې دوره کې تر ټولو ډیره وده درلوده چې د همدې کال په اوږدو کې په سلو کې ۶۳ وده ښیي او د بانکي سیستم په سلو کې ۶۱ د شتمنۍ ډیروالی هغو پورې تړاو لري. د دولتي بانکونو ټولیزې شتمنی په سلو کې ۳۹ وده درلوده.

**په تیرو څلور کلونو کې د بانکونو د ودې کچه**


| | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ |
|---|---|---|---|---|
| د بانکي سیستم ټولیزه شتمنی | ٪۴۷ | ٪۵۹ | ٪ ۷۶ | ۵۵ ٪ |
| د دولتي بانکونو مجموعه | -۲ ٪ | ۱۲ ٪ | - ۶ ٪ | ۳۹٪ |
| د خصوصي بانکونو مجموعه | ۷۲۰ ٪ | ۱۷۶ ٪ | ۱۷۸ ٪ | ۶۳٪ |
| د نمایندګیو مجموعه | ۱۷۶ ٪ | ۶۰ ٪ | ۵۲ ٪ | ۴۸ ٪ |
| پورونه | ۲۲۲ ٪ | ۱۷۹ ٪ | ۱۷۱ ٪ | ۸۳ ٪ |
| امانات | ۲۰۳ ٪ | ۱۱۶ ٪ | ۱۰۶ ٪ | ۵۸ ٪ |


**د افغانستان د بانکي نظام ټولیز پور:**

د افغانستان د بانکي نظام له شتمنیو څخه، په ۱۳۸۶ کال کې ټولیز پورونه ۴۰ میلیارد افغانۍ (۸۰۵ میلیون ډالرو) ته ورسیدل چې د ۱۳۸۵ کال د حوت میاشتې په پرتله په سلو کې ۸۳ وده ښیي. پورونه دا وخت د بانکي سیستم د ټولیزې شتمنۍ په سلو کې ۴۸ جوړوي. د پورونو له مجموعې څخه، د بانکي سیستم په افغاني پورونه ۱۰.۳ میلیارد افغانۍ (۲۰۶ میلیون ډالره) یا د ټولیزه پورونو په سلو کې ۲۶ جوړوي.

صعب الحصول پورونه د ناخالصو پورونو په سلو کې ۰.۶۹ جوړوي او یوازې په سلو کې ۱.۶ پورونه صنف بندي شوي دي. په همدې کال کې د سکتوري پورونو جوړښت په لاندې ډول دی:

| | |
|---|---|
| سوداګریز پورونه | ۸۸.۶۷٪ |
| کرنیز پورونه | ۰.۱۴٪ |
| د اشخاصو لپاره د هستوګنې پورونه | ۲.۱۷٪ |
| د شخصي لګښتونو لپاره کوچني پورونه | ۲.۲۸٪ |
| نور پورونه | ۶.۷۴٪ |







## د افغانستان په بانکي نظام کې امانات

امانات د بانکي سیستم د پورو اخیستنې لویه برخه جوړوي او ۶۴ میلیارد افغاني (۱.۲۸ میلیارد ډالر) ته رسیدلي دي. دا شمیره د ۱۳۸۵ کال د حوت میاشت (د ۲۰۰۷ کال مارچ) میاشت په پرتله په سلو کې ۵۸ وده یا ۲۳ میلیارد افغانۍ ډیروالی ښکاره کوي. په افغاني امانات، د ټولیزه اماناتو یوازې په سلو کې ۲۱ جوړوي چې ۱۴ میلیارد افغانۍ (۲۶۹ میلیون ډالرو) ته رسیږي.

## د افغانستان د بانکي نظام پانګه او ګټه:

بانکي سیستم کافي پانګه لري او د سیستم ټولیزه پانګه (د بهرنیو بانکونو له څانګو استثنا چې پانګه نلري) ۱۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. دا مهال د ټولو بانکونو مقرراتي پانګه د افغانستان بانک د حداقلې ټاکلې پانګې (د شتمنیو په سلو کې ۱۲) څخه ډیره ده چې د افغانستان د بانکي نظام د ګټورتیا ښکارندوی ده.

بانکي سیستم په ټولیزه توګه ګټور دی. د افغانستان بانکي نظام په ۱۳۸۶ کال کې ۱۲۳۰ میلیون افغانۍ (۲۴.۶ میلیون ډالر) د خپلو فعالیتونو څخه ګټه لاسته راوړې ده چې د هغې پر شتمنۍ د بازده نسبت (ROA)د ۲.۰۱ سره مساوي کیږي.



| د افغانستان بانکي نظام په مستقیم او غیر مستقیم توگه د دندې په موندنې کې هم اغیزناکه رول لوبولی دی چې تفصیل یې په لاندې جدول کې نغښتی دی | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شمیره | د بانک نوم | د کورني کارکونکو شمیر | د بهرنیو کارکونکو شمیر | د امانات ایښودونکو شمیر | د پور اخیستونکو شمیر |
| ۱ | د افغانستان انکشافي بانک | ۶۶ | ۱۰ | ۱,۳۰۰ | ۴۱ |
| ۲ | کابل بانک | ۱,۶۷۷ | ۳۱ | ۳۰۴,۵۰۹ | ۴۲۵ |
| ۳ | عزیزی بانک | ۷۹۷ | ۱۰ | ۱۲۳,۳۵۲ | ۱۴۷ |
| ۴ | د افغان ملي بانک | ۵۰۵ | – | ۳۷,۳۵۷ | ۲۱,۷۵۹ |
| ۵ | د افغانستان د صادراتو د پراختیا بانک | ۴۰ | – | ۲,۴۵۰ | ۴۶ |
| ۶ | پشتني بانک | ۴۲۳ | – | ۱,۳۵۰ | ۶۰ |
| ۷ | آرین بانک | ۲۵ | ۶ | ۵۷۳ | ۱۲۸ |
| ۸ | افغان یونایتد بانک | ۲۰ | ۵ | ۲۵۵ | ۱۵ |
| ۹ | افغانستان نړیوال بانک | ۱۵۵ | ۷ | ۷,۱۷۲ | ۱۰۷ |
| ۱۰ | فرست مایکرو فایننس بانک | ۵۰۱ | ۶ | ۱۲,۰۰۰ | ۲۴,۲۴۰ |
| ۱۱ | الفلاح بانک | ۳۶ | ۲۸ | ۹,۳۴۲ | ۷۰ |
| ۱۲ | پاکستان نشنل بانک | ۱۹ | ۷ | ۲,۳۷۰ | ۳۰ |
| ۱۳ | ستندرد چارترد بانک | ۲۶ | ۵ | ۱۳,۰۰۰ | – |
| ۱۴ | پنجاب نشنل بانک | ۵ | ۳ | ۲,۷۲۴ | ۷۲ |
| ۱۵ | حبیب بانک لمیتد | ۲۰ | ۱۰ | ۱,۹۹۶ | ۱۰ |
| ۱۶ | افغانستان برک بانک | ۱۷۳ | ۲۵ | ۲,۷۲۱ | ۹۰۱ |
| | مجموع | ٤,٤٨٨ | ١٥٣ | ٥٢٢,٤٧١ | ٤٨,٠٥١ |

په ۱۳۸۶ هجري لمريز کال کې پنځو بانکي موسسو د بهرنیو اسعارو د وضعیت په اړه له ټاکل شویو مقرراتو څخه سرغړاونه کړې وه چې د مالي چارو د څارنې عمومي مدیریت د دې موسسو جدي پاملرنه دې مسئلې ته راوگرځوله. همدا ډول د میوند، ارکوزیا او غضنفر په نومونو بانکونو په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د نویو بانکونو د جوړولو لپاره خپلې غوښتنې د افغانستان بانک ته سپارلي دي او برکت بانک خپل مقدماتي جواز د افغانستان بانک څخه لاسته راوړلی دی.

# د تادیاتو نظام

عملیاتي برخه

پراختیایي برخه

د سویفټ ثانگه

د بانکونو تر منځ معاملات

له ولایاتو ثخه مرکز ته معاملات

د نمایندگیو تر منځ معاملات

د تلگرام ثانگه

# د تادياتو نظام

د افغانستان بانک د تادياتو عمومي مديريت په ۱۳۸۶ هجري لمريز کال کې په ټوليزه توګه په دوو اړخونو کې پر کار بوخت و:

۱- ورځني عمليات چې بين البانکي انتقالات، د مرکزي دفتر او د ولايتي نمايندګيو تر منځ انتقالات او نړيوال انتقالات رانغاړي.

۲- پراختيايي پروګرامونه چې د کارکونکو د پوهې د لوړوالي، د تادياتي سيستم د پياوړتيا او د ورځنيو چارو د غښتلتيا لپاره کارول کيږي، ځينې يې په لاندې ډول تر سره شوي او ځينې يې د تر سره کيدو لاندې دي.

### ۱. عملياتي برخه:


- د برېښنايي سيستمونو په کارولو سره د انتقالي معاملو تر سره کول (د Afghanistan Clearing and Settlement System (ACSS) سيستم سره بين البانکي انتقالات)
- د Afghanistan Funds Transfer System (AFTS) سره د نمايندګيو تر منځ د انتقالي معاملو تر سره کول
- نړيوالې معاملې د SWIFT (Society for Worldwide Interbank Financial Telecommunication سره تر سره کيږي.
- د هغو نمايندګيو معاملې چې لا تر اوسه پورې د AFTS سره نه دي وصل شوي او يا يې په ځينو دلايلو له دې سيستم څخه کار اخيستی نه دی د شفر او تلګراف سره تر سره کيږي.

### ۲. پراختيايي برخه:

- د مرکزي بانک اوه سرحدي نمايندګی د AFTS سيستم سره نښلول شوي او کارکونکو يې د کمپيوټر زده کړې کړي او AFTS يې زده کړی دی.
- د نمايندګيو تر منځ معاملات (له نمايندګی نه نمايندګی ته) د AFTS سيستم په کارونې تر سره کيږي او نوی سيستم پلي شوی دی.
- د مرکزي بانک د سويفت سرورونه د سويف کمپنی د سپارښتنې له مخې پياوړي او نوي شوي دي.

### د سويفټ څانګه (نړيوالې معاملې)

په ۱۳۸۶ هجري لمريز کال ۸۹۵ وارده معاملې د ۷۲. ۱۶۹/ ۸۳۱/ ۹۶۴/ ۱ ډالرو په ارزښت او ۳۰۶۷ صادره معاملې د ۱۹. ۰۴۳/ ۴۷۹/ ۹۴۸/ ۱ ډالرو په ارزښت اجرا شوي دي چې په ټوليزه توګه په همدې کال کې ۳۹۶۲ معاملې د ۹۱. ۲۱۲/ ۳۱۰/ ۹۱۳/ ۳ امريکايي ډالرو په ارزښت د نړيوالو تادياتو څانګې لخوا اجرا شوي دي چې د ۱۳۸۵ کال په پرتله په سلو کې ۱۳ وده ښکاره کوي.





### د ACSS سيستم په کارونې سره د بانکونو تر منځ معاملې

په ۱۳۸۶ هجري لمريز کال کې ۲۰۷۲۲ ډالري معاملې د ۵۸۹/ ۹۱۵/ ۲۴۷/ ۱ ډالرو په ارزښت او ۱۲۳۲۴

افغـانی معـاملې د ۰۰۰/ ۷۴۳/ ۵۳۷/ ۴۰ افغـانی پـه ارزښت اجـرا شـوي دي. په ټولـیزه توګـه په دې کـال کې ۳۳۰۴۶ معاملې د بانکونو تر منځ د تادیاتو ځانګې لخوا اجرا شوي دي.

لاندې چارت د بین البانکی افغانی معاملو زیاتوالی ښکاره کوي





د یادونې وړ ده چې په ۱۳۸۶ هجري لمریز کا ل کې په افغانی معاملات د ۱۳۸۵ هجري لمریز کل په پرتلـه پـه سـلو کـې ۲۱۴ وده درلـوده او همـدا ډول ډالـري معاملات هم په ۱۳۸۶ کال کې د ۱۳۹۵ هجري لمریـز کال په پرتله په سلو کـې ۹۱ وده ښـودله چـې دا پـه خپلـه پـه هیـواد کـې د بـانکي معـاملو د غوړیـدو ښکارندوي کوي.

## د AFTS په کاروني سره د ولایتو څخه مرکز او برعکس معاملات

په ۱۳۸۶ هجري لمریز کا ل کـې ۹۳۸ صــادره او وارده ډالــري معـاملې د ۵۸۹/ ۵۰۸/ ۱۴۵ ډالـرو پـه ارزښـت او ۱۳۴۷۴ صـادره او وارده افغاني معاملې د ۲۹۱/ ۴۲۴/ ۰۲۲/ ۱۲۱ افغـانی پـه ارزښـت د دې سیستم له لارې تر سره شـوي دي چې پـه ټولـیزه توګـه ویلـی شوو چې په ۱۳۸۶ هجـري لمریـز کا ل کـې۱۴۴۱۲ معـاملې د دې سیستم له لارې اجرا شوي دي.

د نمایندګیو تر منځ معاملات هم د ودې په حا ل کـې دي او د ۱۳۸۵ هـجري لمـریز کـال په پرتله په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د افغانی په معاملو کې پـه سـلو کې ۴۲ او په ډالري معاملو کـې پـه سـلو کـې ۳ وده ښکاره کوي.

ښایي څرګنده کړو چې د ډالري مبالغو حجم چې پـه ۱۳۸۶ کال کې اجرا شوي دي د ۱۳۸۵ هجري لمریـز کال په پرتله په سلو کې ۳۶ ټیټوالی ښکاره کوي چې دا د پام وړ ټیټوالی د دې څرګنـدوي کـوي چـې پـه افغانی معـاملات د هیـواد پـه ولایتونـو کـې د ډالـري





د نمایندګیو ترمنځ د ډالری معاملو مجموع


معاملاتو په پرتله دود شـوي دی.

## د AFTS سیستم په کاروني سره له ولایاتو څخه ولایاتو (له نمایندګی ـ نمایندګی ته) معاملات

په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د تادیاتو د عمومي مدیریت د هلوځلو له امله له نمایندګی نه نمایندګی ته د معاملاتو پروسیجر چمتو او تصویب شو چې ټولې ولایتي نمایندګیو ته یې دا ځواک ورکړ چې خپل تر منځ د AFTS د تادیاتو بریښنایي سیستم څخه د انتقالي معاملو لپاره کار واخلي. په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د نمایندګیو تر منځ ۸۴۶ معاملې د ۷۷۷/ ۶۱۱/ ۲۱۱/ ۲ افغانۍ په ارزښت د AFTS سیستم له لارې تر سره شوي دي.

باید ووایو چې پخوا د تادیاتي انتقالي سیستم د نشتوالي له کبله په دې ډول معاملاتو کې ډیرې ستونزې وې چې اوس د مرکزي بانک ټولې نمایندګۍ کولای شي هر ډول انتقالي معامله د هیواد په هر ګوټ کې په کمه موده کې اجرا کړي.





## د تلګرام څانګه

په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې ۶۳ وارده معاملې د ۲۵۷/ ۰۷۲/ ۵۶۶ افغانۍ په ارزښت او ۲۶ صادره معاملې د ۲۵۰/ ۴۷۸/ ۷۷ افغانۍ په ارزښت د تلګرام په وسیله تر سره شوي دي.

باید څرګنده کړو چې د AFTS د بریښنایي تادیاتي سیستم په پراختیا سره تلګرامي معاملو په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې په سلو کې ۷۱ ټیټوالی موندلی دی چې دا په خپله د افغانستان بانک د تادیاتي سیستمونو د عصري کولو ښکارندوی دی. لاندې ګراف په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د تلګرام له لارې د معاملو د ټیټوالي ښودونکو دی.



# د بازار عملیات

د افغانستان  بانک اسعاري زیرمې

د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو پانګه اچونه

د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو د ټکټانې عواید


د بهرنیو اسعارو لیلام

د بیه لرونکو پاڼو لیلام

# د بازار عملیات

د افغانستان بانک له دندو څخه یوه هم د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانی د ارزښت د ټیکاو خوندیتوب دی او د افغانستان بانک د معقولو پولي سیاستونو په طرحه کولو سره تل هڅه کړی ده چې په بازار کې نقدینګي او پولي انډولتوب او سیالیت په پام کې ونیسي څو د افغانی د ارزښت له کمیدویې مخنیوی کړی وي. په ورته وخت کې د عملیات بازار عمومي مدیریت چې د دې سیاست د پلي کیدو یوه اصلي ستنه ګڼل کیږي هڅه کوي چې په دوامداره توګه بازار تر پام لاندې ونیسي او د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو د پیاوړتیا لپاره هلې ځلې وکړي.


څنګه چې د بهرنیو معامله لرونکو بانکو سره د افغانستان بانک د ارزي شتمنو بیلانس کې لیدل کیږي، د افغانستان بانک د ټولیزه شتمنیو بیلانس په ۲۰/ ۰۳/ ۲۰۰۷ نیټه ۲۰. ۵۵۳/ ۷۶۷/ ۱۶۸/ ۲ ډالرې وی چې د ۱۳۸۶ هجري لمریز کال په وروستیو کې (۱۵/ ۰۳/ ۲۰۰۸ ) ۹۰. ۶۴۰/ ۵۲۱/ ۰۲۴/ ۳ ډالرو ته لوړی شوي دي چې د یو کال په ترڅ کې ۷۰. ۰۸۷/ ۷۵۴/ ۸۵۵ ډالر یا په سلو کې ۳۹ زیاتوالی ښکاره کوي چې په لاندې توګه په حسابونو او په بیلابیلو بیه لرونکو پاڼو کې په پانګه اچول شوي دي:




د بهرنیو بانکونو سره په بیه لرونکو دولتي اسنادو
کې ۵۸. ۸۵۵/ ۵۱۱/ ۵۱۸ ډالر
د بهرنیو بانکونو سره د اماناتو په میعادي حسابونو
کې ۹۴. ۱۱۰/ ۳۲۸/ ۴۰۴ ډالر
د بهرنیو بانکونو سره د کال اماناتو په حسابونو
کې ۵۸. ۲۳۷/ ۹۴۴/ ۲۸۰ ډالر
د بهرنیو بانکونو سره د جاري اماناتو په حسابونو
کې ۱۵. ۸۴۷/ ۸۵۴/ ۲۲ ډالر
د نیویارک فیدرل ریزرف بانک کې خوندي شوي سره زر (معادل ۴۰. ۳۰۸/ ۹۴۳/ ۶۹۷ ډالر)

د دولت د تادياتو او د افغانستان بانک د ډالري اړتياو د پوره کولو لپاره ۲۱. ۲۸۱/ ۹۳۹/ ۹۹ ډالرې په نقدي توګه د مرکز او ولايتي نمايندګيو په خزانه کې ساتل کيږي.


په ټوليزه توګه. ۷۱. ۷۱۱/ ۲۴۸/ ۷۹ ډالرې په ۱۳۸۶ هجري لمريز کال کې د افغانستان بانک د اسعاري شتمنو د پانګې اچونې له لارې د ټکټانې د عوايدو په توګه لاس ته راغلي دي.





د بهرنيو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ټيکاو په موخه د ۱۳۸۶ کال له پيل څخه تر پای پورې په ټوليزه توګه ۰۰۰/ ۹۷۰/ ۹۵۵ امريکايي ډالرې، ۵۸۰ ميليون پاکستانۍ روپيې او ۰۰۰/ ۰۵۰/ ۳ ايرو د اونيزه ليلامونو له لارې پلورل شوي دي چې د پلور له لارې يې په ټوليز ډول ۰۴۰/ ۱۹۱/ ۲۰۹/ ۴۸ افغانۍ لاس ته راغلي دي چې ورڅخه د دولت او ملي او نړيوالو ادارو او ارګانونو د لګښتونو د تاديې لپاره کار اخيستل شوی دی.

همدا ډول د ۱۳۸۶ کال له پيل څخه تر اوسه پورې د ډالرو د ليلام په ورځو د صرافانو او سوداګريزو بانکونو لخوا په ټوليزه توګه ۰۰۰/ ۵۰۰/ ۱۷ ډالرې د همغې ورځ د ډالر د ليلام د Cut off له نرخ ټيټې پيريدل شوي او د هغې افغانۍ معادل قيمت (۵۰۰/ ۶۵۸/ ۸۶۶ افغانۍ) د اړوندو خرڅونکو حساب ته ليږدول شوي دي.

همداسې د کپيټل نوټ په برخه کې، د ۱۳۸۶ کال له پيل څخه تر پای پورې په اونۍ کې يو ځل د دې ادارې لخوا د کپيټل نوټ ليلام تر سره شوی چې په ترڅ کې ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټونه ليلام شوي دي. په ياد شوي وخت کې په ټوليز ډول ۰۰۰/ ۰۰۰/ ۰۷۷/ ۱۳ افغانۍ او په ۱۸۲ ورځني کپيټل نوټ کې په ټوليزه توګه ۰۰۰/ ۰۰۰/ ۰۰۸/ ۴ افغانۍ ليلام شوي دي او بريالي بانکونو ته د دواړو ډولو کپيټل نوټونو د ليلام له امله ۳۰. ۳۱۶/ ۴۴۴/ ۲۳۴ افغانۍ ټکټانه ورکړل شوی ده.






د روان کال په اوږدو کې د Overnight Deposit Facility اوسط چې د مرکزي بانک سره د سوداګریزو بانکونو لخوا ایښودل شوي دي ۸۰. ۹۱۴/ ۱۸۲/ ۸۲۵ افغانۍ ته رسیږي او له دې امله د بازار عملیات مدیریت امانات ایښودونکو ته ۹۲. ۵۱۰/ ۹۷۰ / ۵۷ افغانۍ ټکټانه ورکړې ده.

همدا ډول په همدې موده کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو د اجباري زیرمو یا Required Reserve له امله ۶۶. ۹۳۷/ ۶۸۸/ ۲۱۱ افغانۍ د ټکټانې په موخه تادیه شوي دي.

همدارنګه عملیات بازار په تیر شوي کال کې په ټولیزه توګه ۳۳. ۰۹۳/ ۸۲۴/ ۲۰۴ افغانۍ د Credit Facility په توګه سوداګریزو بانکونو ته پور ورکړې چې له دې امله یې ۰۱. ۷۸۳/ ۲۲۸ افغانۍ عاید تر لاسه کړی دی.

په روان کال کې سعودي عربستان ته د افغان حجاجو د لیږدونې د آسانتیا په موخه دوه ګڼې لیتراف کریډټ د دې اداري لخوا د سعودي عربستان د هوانوردۍ اداري په نامه د کام ایر هوایي شرکت په ګټه د ۱۰. ۲۸۶/ ۳۴۲/ ۹ ډالرو په ټولیزه ارزښت پرانیستل شو چې له امله یې ۰۰۰/ ۱۸۷ امریکایي ډالره د مرکزي بانک په ګټه ټکټانه لاسته راغلې ده.

# مالي صورت حساب

بیلانس شیټ

د ګټې او تاوان صورت حساب

# مالي صورت حساب

د افغانستان بانک

بیلانس شیټ

د ۱۳۸۶ کال د حوت ۲۹ نیټه

| | یادداشت | ۱۳۸۶ (افغانی "۰۰۰") | ۱۳۸۵ (افغانی "۰۰۰") |
|---|---|---|---|
| | | | نوې شرحه |
| شتمنی | | | |
| د طلا ذخیرې | ٤ | ٣٣٣٦٨٠٧٣ | ٢٣٢١٧٢٩٠ |
| د بهرنیو اسعارو نقده ذخیرې | ٥ | ٤١٥٨٤٢٢ | ٣٨٣٢٢٥٨ |
| پر بانکونو او مالي موسساتو طلب | ٦ | ٨٥٥٥٢٢٦٦ | ٥٦٠١٠٤٢٣ |
| د بیلونو ټریژري (د دولتي لنډمهاله پورونو اسناد) | ٧ | ٢٥٧٣٦٥٩٨ | ٢٥٧١٥٤١٧ |
| طلبات او نور د حصول وړ شتمنی | ٨ | ١٦٩٩٥ | ٣٠٨٤٩ |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | ٩ | ٤٨٠٠ | ٤٨٠٠ |
| جایدادونه او تجهیزات | ١٠ | ٢٢١٠٤٩٣ | ٢١٦٠٥٩٨ |
| ناملموسه شتمنی | ١١ | ٢٦٧٨٥ | - |
| نورې شتمنی | ١٢ | ٦٣٤٦٢٥٠ | ٦٧١٨٠٤٤ |
| د شتمنیو مجموعه | | ١٥٧٤٢٠٦٨٢ | ١١٧٦٨٩٦٧٩ |
| د ورکړې مکلفیتونه او د پانګې سهمیه ( اکویټي ) | | | |
| د ورکړې مکلفیتونه | | | |
| په دوران کې پیسې | ١٣ | ٥٨٩٦٥٤٩٠ | ٥٠٣٢٨٨٩٤ |
| کپیټل نوټ ( ارزښتناک اسناد) | ١٤ | ٤٥١٩٠٦١ | ١١٧٩٤٠٦ |
| د نورو بانکونو او مالي موسساتو طلبات | ١٥ | ٧٤٧٠٦٨٩ | ٥٠٩٧٥٧١ |
| د مشتریانو ذمت | ١٦ | ٤٢٠٣٩٣٧٢ | ٣٧٨٠٥٣١٥ |
| د نړیوال وجهي صندوق اړوند د ورکړې مکلفیتونه | ١٧ | ٣٢٠٤٩ | ٣٢٠٤٩ |
| حقوق او مزایا (تقاعد) | ١٨ | ٢٩٥٠٣٦ | ٣٤١٦٧٤ |
| موجلې اعانې | ١٩ | ١٦٨١١٨ | ١٧٤٦٧٨ |
| تدارکات (پرویژنونه) او نور د ورکړې مکلفیتونه | ٢٠ | ١١٣٦٦٦١٧ | ٥٩٤٦٢٩٤ |
| د ورکړې د مکلفیتونو مجموعه | | ١٢٤٨٥٦٤٣٢ | ١٠٠٩٠٥٨٨١ |
| د سهمیې د صاحبانو حقوق ( اکویټي ) | | | |
| پانګه | ٢١ | (٣٨٠٣٧٧١) | (٥٩١٧٤٧٨) |
| بیا ارزښت موندنکي ذخیرې | ٢١ | ٣٦٣٦٨٠٢١ | ٢٢٧٠١٢٧٦ |
| متراکم زیانونه | ٢١ | - | - |
| د پانګې د سهمیې مجموعه ( اکویټي ) | | ٣٢٥٦٤٢٥٠ | ١٦٧٨٣٧٩٨ |
| د ورکړې د مکفیتونو او اکویټي مجموعه | | ١٥٧٤٢٠٦٨٢ | ١١٧٦٨٩٦٧٩ |

د ۱ څخه تر ۳۴ شمیرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي.

| | | |
|---|---|---|
| مسعودخان موسی غازی | محب الله صافی | عبدالقدیر فطرت |
| عمومي مالي آمر | د افغانستان بانک لومړی مرستیال | د افغانستان بانک لوي رییس |

## د افغانستان بانک
## د ګټې او تاوان صورت حساب
## د ۱۳۸۶ کال د کب ۲۹ نیټه

| | يادداشت | ۱۳۸۶ (افغانی "۰۰۰") | ۱۳۸۵ (افغانی "۰۰۰") |
|---|---|---|---|
| د ټکټانې عايد | ۲۲ | ٤۲۲۸۱۱۲ | ۳٤۱٤۹۰٦ |
| د ټکټانې مصارف | ۲۳ | (٤۸۰۰٦٦) | (۸۱۳۹٦) |
| د ټکټانې خالص عايد | | ۳۷٤۷۰٤٦ | ۳۳۳۳٥۱۰ |
| د فيس او کميشن عايد | | ۱۷۲٦۳۱ | ۱٤٦۹۹۲ |
| د فيس او کميشن مصارف | | (۸۲٤٦) | (٤۳۱۱) |
| د فيس او کميش خالص عايد | | ۱٦٤۳۸٥ | ۱٤۲٦۸۱ |
| د بهرنيو اسعارو د تبادلې له امله ګټه/ تاوان | | ۳۳٤٥٦۷ | ٦٦۸٥۳۲ |
| نور عملياتي عوايد | ۲٤ | ٥٦۲۰۹ | ۷٤۲۷۳ |
| | | ۳۹۰۷۷٦ | ۷٤۲۸۰٥ |
| عملياتي عوايد | | ٤۳۰۲۷۰۷ | ٤۲۱۸۹۹٦ |
| د تطبيقاتو له امله تاوان | ٦.۲ | (۷۷۹۹۰۰) | - |
| د مالي شتمنيو د ارزښت له کموالي څخه خالص تاوان | ۸.۲ | (۳۲۳٤۸۸) | (۱۱٥٦٦۸۸) |
| د کارکونکو مصارف | ۲٥ | (۲۲۱٤۱۰) | (۲۱٦۰٤۱) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | | (۲۰٤٦۸۹) | (۱۰۷٤۲۳۸) |
| نور مصارف | ۲٦ | (۱۰۲۱٦٥) | (۱۰٥۳۲۳) |
| د داوطلبانه تقاعد د حقوقو مصارف | ۲۰.۲ | (٥۰۲٦۲٦) | - |
| استهلاک | ۱۰ و ۱۱ | (٥٤۷۲۲) | (٥۰۳٥۳) |
| د تبادلې نرخ کې غير حقيقي ګټه | ۲۱.٤.۲ | ۳۲٤۰۳۱۰ | ۲۸۱۱۰۱۷ |
| کلنی ګټه | | ٥۳٥٤۰۱۷ | ٤٤۲۷۳۷۰ |

د ۱ څخه تر ۳۴ شميرې پورې ضميموي يادداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي.

| مسعودخان موسی غازی | محب الله صافی | عبدالقدير فطرت |
|---|---|---|
| مالي عمومي آمر | د افغانستان بانک لومړی مرستيال | د افغانستان بانک لوي رييس |

# اداره او پراختیا

اطلاعاتي تکنالوژي

بشري منابع

د حقوقي مشاوريت دفتر

روغتيايي کلينک

# اداره او پراختیا

**معلوماتي تکنالوژي:**

د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مدیریت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې په بیلابیلو برخو کې لاندې فعالیتونه تر سره کړي دي:

۱. بیخ بنسټ او شبکه:

الف - د انټرنیت د محدودولو په موخه، په هغه پوستکالي کې د پالیسی جوړول چې د ویب پاڼو د چڼولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږي او د یو کال لپاره د هغې د کارونې نوي کول. د یادونې وړ ده چې د یاد شوي پوستکالي کلی باید هر کال نوي شي.

ب - د مرکزي محاسبوي سیستم (CBS) د پلي کولو لپاره د افغانستان بانک په شپږو زونونو کې د شپږو سرورونو د نصبولو بشپړول.

ج - په نوې ودانۍ (د خدماتو مدیریت، د خپریدنې او ساتنې مدیریت او د مرکز زون) کې د (LAN) د سیمه ایزې شبکې بشپړول او د دننه مکالمو لپاره په دې مدیریتونو کې د سیسکو ټلفونونو نصبول.

د - د مرکزي ودانۍ سره، د خدماتو او د خپریدنې او ساتنې ودانیو د نښلولو لپاره د لمریز فایبر نصبول.

و - د مرکز، شپږو زونونو او ۲۵ نمایندګیو لپاره د انټرنیت د برابرولو د تړون نوي کول.

ه - د افغانستان بانک د شپږو زونونو د معلوماتي تکنالوژۍ مسوولینو ته د ویروس څخه د کمپیوټرونو د ساتنې، د بریښنایي لیک (Outlook Express) د ستونزو لرې کونې او په اړوندو کمپیوټرونو کې د اړینو پوستکالو نصبولو ښوونه.

ی - د افغانستان بانک په دوو نورو نمایندګیو کې د مرکزي محاسبوي سیستم (CBS) پلي کول.

۲. خوندیتوب:

د بانک د خوندیتوب په موخه ساتونکي کمرې د افغانستان بانک له انګړ بهر او دننه په انګړ کې په ډیرو مهمو ځایونو کې بندې شوي دي چې د افغانستان بانک د پیښو څخه لاخوندي وساتي. البته د یادونې وړ ده چې دا کامرې د یوه مرکزي کنټرول خونې






لخوا اداره کیږي چې په پورته عکسونو کې یوه برخه ښودل شوی ده.

ساتونکي کامرې په دوامدار ډول فعالې دي او د افغانستان بانک ډیر مهم ځایونه د کنټرول او څارنې لاندې لري.

۳. د معلوماتي تکنالوژۍ د وسایلو ویش:

۱۱۵ ډسکټاپ کمپیوټرونه د ۱۱۵ بریښنایي ذخیرې (UPS) سره، ۳۲ لپټاپ کمپیوټرونه، ۳۴ نټورک پرنټرې او ۱۶ سکنرونه په مرکز او د افغانستان بانک په نمایندګیو کې په سمه بڼه نصب او کارونکو ته یې اړینه روزنه ورکړل شوې چې ورڅخه په سمه توګه کار واخلي.




پورتنی چارټ د معلوماتي تکنالوژۍ عمومي مدیریت د توکو د ویش ښکارندوی کوي.

۳. د مرستې میز

د معلوماتي تکنالوژۍ د عمومي مدیریت د مرستې میز چې د کمپیوټر، سکنر، بیګن، پرنټر او نورو اړوندو معلوماتي ټکنالوژۍ وسایلو په برخه کې د کارونکو د ستونزو د حلولو دنده لري، د افغانستان بانک په مرکز او نمایندګیو کې ستونزې حلوي.

په ۱۳۸۶ کال کې د دې مدیریت یوه بله لاسته راوړنه د سنبال شوې عملیاتي خونې جوړول دي د ډیرو سیستمونو انستالیشن او فورمتینګ د همدې خونې له لارې تر سره او د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژۍ ډیرې تجهیزات چې د ترمیم شونتیا یې وه، ترمیم او پاتې نور یې د فني پلاوي لخوا د ترمیم لپاره بازار ته وړل شوي دي.

د دې مدیریت یوه بل مهمه دنده د افغانستان بانک د ولایتي نمایندګیو (څه باندې ۳۰ نمایندګۍ) د ستونزو حلول دي. دا کار په لومړي پړاو کې د ټلفن او بریښنالیک له لارې او که چیرې د یوې نمایندګۍ ستونزه جدي وي نو د دې مدیریت د کارکونکو په استولو سره دا ستونزه حل کیږي. دا کار هر وخت او په هرې نمایندګۍ کې چې ورته اړتیا وي، تر سره کیږي او په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د دې مدیریت کارکونکي څه باندې ۳۹ ځل په همدې موخه ولایتونو ته سفر کړی دی.

**بشري منابع :**

د بشري منابع عمومي مدیریت چې د افغانستان بانک د مهمو مدیریتونو څخه ګڼل کیږي، تل هڅه کړې ده چې د معقولو پالیسیو په جوړولو سره، د افغانستان بانک د نوښتګرې، مستعدې، پوهې او پیاوړې انساني پانګې سره د ودې او پرمختګ پر مخ وکاږي.

دې مدیریت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د نورو لسګونو مهمو کارونو تر څنګ، وکړای شول لاندې چارې په ښه توګه تر سره کړي:

د پالیسي مدیریت:

- د افغانستان بانک د عمومي مدیریتونو او کارکونکو د دندو د لایحې لاسوند جوړول
- د افغانستان بانک د کارکونکو د مقررې د لاسوند چمتو کول
- د افغانستان بانک د کارکونکو د ارزونې او د دستورالعمل فورمو د لاسوند چمتو کول
- د کارکونکو د پالیسی د لارښود کتاب چمتو کول
- د افغانستان د اسلامي جمهوري د وزیران د محترمې شورا د قوانینو، احکامو، فرامینو او تصویبونو او د افغانستان بانک د عالي شورا د تصویبونو او احکامو تطبیقول

د کارکونکو د ودې او پرمختیا مدیریت:

- په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې له هیواد څخه په بهر کې د روزنې په برخه کې ۸۷ کسانو روزنه ولیده.
- د خصوصي زده کړو په برخه کې ۱۸۸۵ کسانو په ۱۰۸ کورسونو کې زده کړه کړې ده.
- د عمومي زده کړو په برخه کې ۱۵۹ کسانو په ۸ کورسونو کې زده کړه وکړه.
- په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک ۸۷ کارکونکو چې له هیواد څخه یې بهر زده کړې کړې دي، ۲۴ کسانو یې خپلې زده کړې او تجارب

د افغانستان بانک د نورو کارکونکو سره د معلوماتو او پرزینټیشن ورکولو له لارې ګډې کړې دي.

- د افغانستان بانک د کارکونکو د ودې او پراختیا مدیریت د کتابتون د ثبتولو کتابچه ښکاره کوي چې په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې ۲۰۰ کارکونکو د خپلو کاري ظرفیتونو د بډاینې لپاره له انټرنیټ کار اخیستې او په ورته وخت کې ۵۰ کارکونکو له کتاب او ۱۰۰ نورو کارکونکو له ورځپاڼو او مجلو استفاده کړې ده.

د ستراتیژۍ او پلان جوړونې مدیریت:

- دې مدیریت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې په مرکز کې د ۳۴ کارکونکو او په ولایتي نمایندګیو کې د ۹ کارکونکو، په مرکز کې د ۹ اجیرانو او په ولایتو کې د ۱۶ اجیرانو او په مرکز کې د ۱۰ کسو کارګرو او په ولایتي نمایندګیو کې د ۲۲ کسو کارګرو د استخدام بهیر بشپړ کړی دی.

- همدا ډول دې مدیریت له یوې شعبې څخه بلې شعبې ته د ۱۱۲ کارکونکو د تبدیلۍ پروسه پای ته ورسوله.

- دې مدیریت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د مرکز په ګډون د ښاري څانګو او ولایتي او سیمه ایزو نمایندګیو د کارکونکو د تشکیل پر جوړښت او معاشاتي بودجې باندې کار پیل کړ.

- د نیمروز ولایت په ګمرک کې د ۵ کارکونکو په کمیت سره د نمایندګۍ جوړول

- د امنیت د عمومي آمریت جوړول

- د مالي خطراتو د مدیریت جوړول

- د ۱۱ نفرو په کمیت سره د آقینه بندر د نمایندګۍ جوړول

د متقاعدینو مدیریت:

- د افغانستان بانک د متقاعدینو شمیر ۱۱۳۱ کسانو ته رسي چې په سلو کې ۷۰ یې له خپلو حقوقو برخمن شوي دي.

- د متقاعدینو مدیریت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک ۲۰۰ کارکونکو ته چې د هیواد په لرې ولایتونو کې ژوند کوي، معاش ورسولی دی.

- په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د متقاعدینو د معاشونو زیرمه ۵۸. ۰۵۸/ ۶۹۹/ ۲۴ افغانی ته رسیده او د تیر کال پاتې تخصیص ۰۰۰/ ۰۰۰/ ۱۰ افغانی د افغانستان بانک د تقاعد زیرمې ته انتقال شوي دي.

- په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک د کارکونکو د معاش د ویشنې په موخه ۷۲. ۸۴۷/ ۳۶۴/ ۱۳ افغانی تادیه شوي دي.

- د متقاعدینو مدیریت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د متقاعدینو د معاشونو د ورکړې د آسانتیا او د کار د لا تثبیت او تشخیص لپاره، یو ډیټابیس جوړ کړ چې د متقاعدینو او د هغوې د وارثینو دقیقې شمیرې رانغاړي. په دې ډیټابیس کې میاشتنی معاش، د ورثې شمیر، د خدمت موده او یو شمیر نور ګټور معلومات شامل دي.

## د حقوقي مشاوریت دفتر:

د افغانستان بانک د حقوقي مشاوریت دفتر په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې په لاندې برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې درلودی:

۱. د بانکي معاملاتو د منقولو اموالو د تضمین د قانون برابرول

۲. د بانکي معاملاتو د نامنقولو اموالو د تضمین د قانون برابرول او د عدلیې وزارت ته لیږل

۳. د اجارې قانون برابرول چې دا وخت یې لاسوند بشپړ شوی او ډیر ژر به عدلیې وزارت ته ولیږل شي

۴. پر لویو پورونو د محدودیتونو په مقررې کې تعدیلات چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب شوي دي

۵. د بانکي مجوزه او ممنوعه فعالیتونو د مقررې تعدیلات چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب شوي دي.

۶. د عملیاتي خطرې د ادارې پر مقررې د کار پیل

۷. د مارکیټ خطرې د ادارې پر مقررې د کار پیل

۸. د کریډټي خطرې پر مقررې د کار پیل

۹. د ربح د نرخ د خطرې پر مقررې د کار پیل
۱۰. د سکتورې قرضې پر مقررې د کار پیل
۱۱. د بشري منابع پر طرزالعمل د کار پیل
۱۲. د مالي شخړو د حل کمیسیون جوړول

**د بانک روغتیایي کلینک:**

د افغانستان بانک روغتیایي کلینک په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک ۳۱۵۳ کارکونکي او د هغوی د کورنۍ غړي معاینه، درمل او پانسمان کړي دي. د افغانستان بانک هڅه کوي چې خپل روغتیایي کلینک لا هم په نویو وسایلو سمبال کړي څو د خپلو کارکونکو او د هغوې کورنیو ښه خدمت وکړای شي. •

## د افغانستان بانک په عکس کې














# افغانستان بانکی در عکس
















## د افغانستان بانک په عکس کې
















د افغانستان بانک در عکس



